# د مسجع نثر څېړنه



څېړنپوه محمد اصف احمدزی

د مسجع نثر څېړنه
څېړنپوه محمد اصف احمدزی

# A Study of Prose Poem (Mosajja Prose)

Prof. Mohammad Asif Ahmadzai

2023

ISBN 978-9936-661-71-4
9 789936 661714

د افغانستان اسلامي امارت
د علومو اکاډمي
د بشري علومو معاونيت
د ژبو او ادبياتو مرکز
د پښتو ژبې او ادبياتو انستيتوت
د ادبياتو او متنپوهنې ډيپارټمنټ

# د مسـجع نـثر څـېړنه

څېړنپوه محمد اصف احمدزی

**د کتاب ځانګړنې**

**د کــتاب نوم:** د مسجع نثر څېړنه

**لیکوال:** څېړنپوه محمد اصف احمدزی

**ایډېټر او مهتمم:** څېړنپوه سید نظیم سیدي

**ډیزاین:** محمد مجتبی همایون

**د چاپ کال:** ۱۴۰۲ هـ. ش / ۱۴۴۵هـ. ق کال

**خــپرنـدوی:** د افغانستان د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**د چاپ ځای:** بهیر مطبعه

**ISBN:** ۹۷۸-۹۹۳٦-٦٦١-۷۱-۴

**د چاپ ټول حقوق له علومو اکاډمي سره خوندي دي**

بسم الله الرحمن الرحيم

# ليکلړ

**سرليک** **مخگڼه**


د لارښود استاد گزارش / اکاډميسين څېړنپوه دکتور سيد محی الدين هاشمي..............أ
تقريظ / څېړنپوه زلمی هېوادمل ................................................ و
تقريظ / څېړنپوه نصرالله ناصر..................................................ط
تقريظ / څېړنپوه محمد نبي صلاحي ...............................................م
تقريظ / څېړنپوه دکتور عبدالظاهر شکيب ...........................................ع
سريزه ..................................................................................١

**لومړی څپرکی**

**د موضوع شاليد** ...................................................................٧

**دويم څپرکی**

**د نثر پېژندنه او د پښتو نثر پرمختيايي بهير** ...................................١٥
د نثر لغوي او اصطلاحي پېژندنه..................................................١٥
د نثر ډولونه.......................................................................٢٢
د پښتو نثر پرمختيايي بهير ته ځغلنده کتنه ......................................٤٠

**درېيم څپرکی**

**د مسجع نثر پېژندنه او د هغه د پيدايښت څرنگوالی**...............................٤٥
د مسجع نثر پېژندنه..............................................................٤٥
د سجعې لغوي شننه ..............................................................٤٥
د سجعې اصطلاحي شننه ..........................................................٤٧
په سجع کې قرينه..................................................................٥١
په مسجع نثر کې د قرينو گرامري جوړښت .........................................٥٤
د سجعې ښکلا......................................................................٥٥
د سجعې غوره والی.................................................................٦٠
د سجعې ملاتړ او تأييد...........................................................٦٠
د سجعې مخالفت ...................................................................٦٥
د سجعې ښکلا، د تأييدوونکو او مخالفينو ترمنځ ...................................٦٨
د مسجع نثر ډولونه.................................................................٧٢
د مسجع نثر ځانگړتياوې او د نثر له نورو ډولونو سره يې توپيرونه.................٨٧

د نثر له نورو ډولونو سره د مسجع نثر توپيرونه ........................... ۹۰
مرسل نثر او مسجع نثر........................................................... ۹۰
فني نثر او مسجع نثر............................................................. ۹۲
شاعرانه نثر او سجع ............................................................. ۹٤
سجع او قافيه ................................................................... ۹۵
سجع او جناس.................................................................... ۹٦
مسجع شعر....................................................................... ۹۷
نظم او مسجع نثر ................................................................ ۹۸
په عربي او دري ژبو کې د مسجع نثر د پيدايښت او پايښت څرنګوالي ته لنډه کتنه .............. ۹۹
سجع په عربي ژبه کې.............................................................. ۹۹
سجع د جاهليت په دوره کې ....................................................... ۱۰۰
سجع په لومړۍ پېړۍ کې ........................................................... ۱۰۳
سجع په دويمه او درېيمه پېړۍ کې ................................................. ۱۰۵
سجع په څلورمه او پنځمه پېړۍ کې................................................. ۱۰٦
سجع له شپږمې پېړۍ څخه وروسته................................................... ۱۰٦
سجع په دري ژبه کې .............................................................. ۱۰۸
د پنځمې پېړۍ تر پايه د پارسي نثر سجع .......................................... ۱۱۰
په شپږمه او اومه هجري پېړۍ کې د پارسي نثر سجع ................................ ۱۱٤
د شپږمې او اوومې پېړۍ په پارسي نثر کې د سجعې ځانګړنې ............................ ۱۱۷
په اوومه او اتمه پېړۍ کې پارسي مسجع نثر........................................ ۱۱۷

## څلورم څپرکی

**په پښتو ادب کې د مسجع نثر د تاريخي بهير څېړنه ............ ۱۲۳**
په پښتو ادب کې د مسجع نثر پيل، خپرېدنه او پرمختيا ................................ ۱۲۳
په پښتو ادب کې د مسجع نثر د بنسټګرو لنډه پېژندنه ................................ ۱۳۵
بايزيد روښان .................................................................. ۱۳۵
اخوند درويزه .................................................................. ۱٤۱
د عربي او دري ژبو له ځينو مسجع نثرونو سره د پښتو مسجع نثرونو پرتلنه ............. ۱٤٤
د عربي ژبې مسجعات.............................................................. ۱۵٤

## پنځم څپرکی

**په پښتو ادب کې په مسجع نثر د لیکل شوو آثارو تحلیلي څېړنه او ارزونه...۱۵۹**
په روښاني غورځنګ کې د مسجع نثر لیکنې د بهیر څرنګوالی او د آثارو تحلیلي کتنه ....۱۵۹
خیر البیان......................................................................۱۶۰
د اخوند درویزه او د هغه د پیروانو د مسجع نثر لیکنې د بهیر څرنګوالی...............۱۷۷
مخزن الاسلام ..................................................................۱۷۸
ایمان نامه ......................................................................۱۸۲
د اخوند درویزه او د هغه د پیروانو پر مسجع نثر د ځینو لیکل شوو آثارو پېژندنه ............۱۸۶
ایمان نامه ......................................................................۱۹۰
شمایل نامه....................................................................۱۹۱
د بابوجان لغماني دیني او مذهبي مجموعه ......................................۲۰۴
فواید الشریعت ..................................................................۲۰۸
د ملا څالاک رساله (د الله دیدار په جنت کې)........................................۲۱٤
نافع المسلمین...................................................................۲۱۷
خلاصة الاسلام .................................................................۲۲۰
د زوی قرباني ..................................................................۲۲۵
ورک زوی څنګه پیدا شو؟........................................................۲۲۹
تولدنامه د حضرت رسول .........................................................۲۳٤
د بي بي خدیجې کیسه ..........................................................۲۳۶
د حضرت داؤد کیسه .............................................................۲۳۸
د بې نمازانو بیان رساله ..........................................................۲۳۸
د حضرت محمد او ابوجهل کیسه ..................................................۲۳۹
شفاعت نامه....................................................................۲٤۰
د کعب الاخبار کیسه .............................................................۲٤۱
د عقبا کیسه.....................................................................۲٤۲
شفاعت نامه (۲)................................................................۲٤٤
«پر شاګرد د استاد د حقونو بیان» یا «حقوق الاستاد» رساله........................۲٤۵
نورنامه..........................................................................۲٤۶
قصه مریم یا د حضرت عیسی کیسه ..............................................۲۵۹
د معاذ بن جبل حکایت ..........................................................۲۶۲

د سعید او ثعلبه کیسه........................................................................ ۲۸۵
د خیر البیان مسجع نثر........................................................................ ۲۹۷
د خیر البیان او مخزن الاسلام د مسجع نثرونو پرتلیز جاج ............................. ۲۹۷
د «مخزن الاسلام» مسجع نثر ................................................................. ۳۰۷
د روښان او دروېزه د نثرونو مقایسه.......................................................... ۳۱۳
د روښان او د دروېزه د پیروانو او ځینو نورو مسجع نثر لیکونکو د آثارو د ژبني اړخ پرتلنه .. ۳۲٤

**شپږم څپرکی**

**په وروستیو دوو پېړیو او معاصره ادبي دوره کې د پښتو مسجع نثرلیکنې بهیر**..۳۳۷
په دولسمه او دیارلسمه هجري پېړیو کې د مسجع نثر لیکنې پرمختیایي بهیر............. ۳۳۷
د دیارلسمې هجري پېړۍ په وروستیو کې د مسجع نثر لیکنې د بهیر د رکود عوامل ...... ۳٦٦
په پښتو معاصر ادب کې د مسجع نثر د څرنګوالي جوتول او نیمګړتیاوو په ګوته کول ............ ۳٦۸
پایله ................................................................................................ ۳۹۵
وړاندیزونه ........................................................................................ ٤۰۱
مأخذونه............................................................................................ ٤۰۳

# د لاربښود استاد گزارش

«په پښتو کې د مسجع نثر د پیدایښت او پایښت څېړنه» د هغه علمي- څېړنیز اثر نوم دی چې د افغانستان علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو مرکز د پښتو ژبې و ادبیاتو انستیټوت د ادبیاتو او متنپوهنې څانگې غړي ښاغلي څېړنوال محمد اصف احمدزي د څېړنپوهۍ علمي پوړ ته د لوړاوي لپاره د شپږ کلنې علمي ـ څېړنیزې پروژې په توگه د ټاکلو مفرداتو له مخې په ۳۱۱ مخونو A٤ سایز په کمپیوټر کمپوز شویو مخونو کې زما په لارښوونه بشپړې کړې ده، دا دی په اړه یې د لارښود استاد په حیث خپل لیکلی رپوټ وړاندې کوم:

زموږ په ادبي ـ فرهنگي عنعنه کې لرغوني نثرونه د بڼې له مخې په درېوو سترو ډولونو وېشل شوي دي: متکلف نثرونه، قافیه وال یا مسجع نثرونه، ساده او روان نثرونه.

په دغو کې مسجع نثرونه هغه دي چې لیکوال په کې وزن او سجع لرونکې کلمې د شعر د قافیو په څېر کارولې وي. په پښتو کې یې غوره لرغونې بېلگې د پیر روښان «خیر البیان» او د اخوند درویزه «مخزن الاسلام» دي. د دغو نثرونو د فني جوړښت، بېلابېلو ډولونو او د پیدایښت او پایښت، ودې او پرمختیا د بهیر د پېژندنې په اړه په دې اثر کې پراخه څېړنه شوې ده.

د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو مرکز د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیټوت په علمي- ادبي- څېړنیزه کړنلاره کې د منظومو او منثورو لیکنیو ژانرونو او آثارو په اړه لیکنې او څېړنې لومړیتوب لري، نو ځکه یې د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیټوت د ادبیاتو او متنپوهنې څانگې غړي ښاغلي څېړنوال محمد اصف احمدزي ته د څېړنپوه علمي پوړ ته د لوړاوي لپاره «په پښتو کې د مسجع نثر د پیدایښت او پایښت څېړنه» موضوع وسپارله چې دا دی اوس یې د شپږ کلنې څېړنیزې پروژې په توگه زما په لارښوونه له مفرداتو سره سمه په دې لاندې شپږو څپرکو کې بشپړه کړې او د دفاع تر درشله را رسولې ده:

له سریزې وروسته چې څېړونکي په کې د خپلې موضوع پر اهمیت، مبرمیت، د څېړنې اړتیا او ترسره کولو پر لارو چارو لنډ بحث کړی، په لومړي څپرکي کې چې له

معمول سره سم د موضوع شالید ته ځانګړی شوی، پر موضوع دمخه شوی کار په لنډیز سره را پېژندلی، لنډه تحلیلي کره کتنه یې پرې کړې او د هغو په پرتله یې د خپلې څېړنې نسبي کره والی او پوره والی جوت کړی دی.

دوهم څپرکی د نثر عامې پېژندنې او د پښتو نثر پرمختیایي بهیر څېړي. دریم څپرکی په عام ډول په ادبیاتو کې د مسجع نثر پېژندنې او د هغه د پیدایښت او پایښت څرنګوالی بیانوي. په دې برخه کې لیکوال لومړی د مسجع نثر هر اړخیزه پېژندنه کړې، پر اهمیت او ماهیت یې غږېدلی، د دغه نثر ټولې ځانګړنې او د نثر له نورو ډولونو سره یې توپیرونه ښودلي دي او بیا یې په عربي او دري ژبو کې د مسجع نثر د پیدایښت او پایښت پر څرنګوالي لنډه کتنه کړې چې په پښتو ژبه کې مسجع نثر په واقعیت کې له همدغو دواړو ژبو څخه د ژورې اغېز منلې په نتیجه کې رامنځ ته شوی دی.

څلورم څپرکی په پښتو ادب کې د مسجع نثر تاریخي بهیر څېړي. څېړونکی لومړی په پښتو ادبیاتو کې د دغه نثر د پیلامې، ادامې او پرمختیا په څرنګوالي غږېدلی او بیا په پښتو ادب کې د دغه نثر د بنسټګرو (روښان«رح» او درویزه«رح») پېژندنه راوړې او له آثارو څخه یې د مسجع نثر په بېلګو تحلیلي بحثونه کوي او د همدې څپرکي په دوهمه برخه کې د عربي او دري ژبو له ځینو مسجع نثر بېلګو سره د پښتو مسجع نثرونه پرتله کوي.

د څېړنې پنځم څپرکی په پښتو ادب کې د مسجع نثر د لیکل شویو آثارو تحلیلي څېړنې او ارزونې ته ځانګړی شوی، په دې برخه کې لومړی د بایزید روښان د خیر البیان او بیا د اخوند درویزه د مخزن الاسلام او ایمان نامه آثارو څخه د مسجع نثر ډېرې غوره بېلګې راوړل شوي، لنډه شننه او تحلیل یې شوی او بیا د اخوند درویزه او د هغه د ځینو پیروانو د مسجع نثرونو «ایمان نامه، شمایلنامه، د زوی قرباني، ورک زوی څنګه پیدا شو، تولدنامه د حضرت رسول، وفاتنامه، د بي بي خدیجې کیسه» او داسې نورې په لسګونو بېلګې د دغه دورې د ډېرو نوماندو لیکوالو او آثارو، لکه فواید الشریعت، نافع المسلمین، د بابوجان لغماني دیني او مذهبي آثارو مجموعه او... څخه را اخیستل شوي او په لنډ ډول تحلیل شوي دي.

د اثر وروستی یا شپږم څپرکی په وروستیو دوو پېړیو او معاصره ادبي دوره کې د

مسجع نثر ليکنې بهير څېړي. ليکوال د مسجع نثر ليکنې د لنډ بهير له څېړلو وروسته لومړی په وروستيو دوو پېړيو کې په مسجع نثر ليکل شويو آثارو څخه د مسجع نـثر غـوره بېلګې راوړي او د ځينو شـننه کـوي، بيـا د دولسـمې هجـري پېړۍ پـه وروسـتيو کـې د مسجع نثر ليکنې د رکود عوامل بيانوي او بيا د پښتو په معاصر ادب کې د مسجع نثر د څرنګوالي په اړه هر اړخيز بحث په ترڅ کې د اوسنيو مسجع نثر ليکونکـو ځينـې بېلګـې راوړي او د ليکوالو نومونه يې اخلي او د بحث په وروستۍ برخه کې د اوسني مسجع نثر ليکنې د بهير ځينې نيمګړتياوې، کمزورتياوې او د هغو عوامل هم په ګوته کوي.

د يوې جامع پايلې چې د ټولو څپرکو د خورو ورو بحثونو نچـوړ يـې پـه خپلـه لمنـه کې رانغښتی، وړانديزونه چې د موضوع په باب د اړتياوو، ستونزو او نـورو څېړنـو، سـپړنو، د ليکوالو، خپرندويانو او اړوندو علمي ادارو مکلفيتونه په ګوته کوي او پام يـې را اړوي او اخځليکونو په راوړلو سره دغه علمي- څېړنيزه پروژه پای ته رسېدلې ده.

سره له دې چې د دې پروژې څېړونکي ته د علمي اکاډميک مکلفيـت لـه مخـې د يوې داسې نوې او پراخې موضوع څېړنه او سپړنه ور ترغاړې وه چې دمخه پـه پښـتو ژبـه او ادب کې د پېژندنې لپاره په تيوريکي او عملي اړخونو ډېرې لـږې څېړنـې او هغـه هـم په ځينـو ادبي څېړنيـزو آثـارو کـې د لنـډو يـادونو او څرګنـدولو ترکچـې او د دغـه نثرونـو بېلګې هم په دوه درې چاپي آثارو کې خپـرې شـوې دي، خـو ښـاغلی احمـدزی چـې د هېواد له رسمي ژبو (پښتو او دري) پرته پـه عـربي او اردو هـم پـوهيږي، د متنپـوهنې او متن څېړنې لـه اساسـاتو هـم خـبر دی، د هغـو ژبـو لـه آثـارو او ترڅنـګ يـې د پښـتو لـه پخوانيو قلمي نسخو څخه د مسجع نثر د پېژنـدنې او تـاريخي بهـير سـپړنې د تيـوري او پښتو کې د دغه نثر ډېرو غـوره بېلګـو ترلاسـه کولـو لپـاره ډېـرو چـاپي او قلمـي آثـارو تـه مراجعه کړې او مناسبه ګټه يې ورڅخه اخيستې ده.

ما د دې تېرو شپږو کلونو په موده کې چې د دې علمي- څېړنيزې پروژې لارښـوونه را تر غاړې وه، دا پوره احسـاس کـړه چـې څېړونکـی د موضـوع پـه اړه د چـاپي او قلمـي معلوماتي سرچينو او منابعو ترلاسه کولو لپاره څومره ستونزې او کړاوونه وګالل، ډېر ګټـور منابع يې ترلاسه او له هغـو څخـه يـې پـه مناسـبه ګټـه اخيسـتنې دا دی خپلـه علمـي ـ

ثېړنيزه چاره په بري ترسره کړي او خپله علمي ـ څېړنيزه پروژه يې د دفاع تر درشله را رسولې ده.

څېړونکي د څېړنيزې چارې ترسره کولو لپاره په ټولو پړاوونو کې ګام پر ګام زما پر لارښوونو عمل کړی، کومې منابعې او سرچينې چې ما ورښودلي، هغه يې د امکان تر بريده ترلاسه کړي، کوم بدلونونه او سمونونه چې هر ځل ما د کتنې پر مهال په نښه کړي او ور ښودلي، هغه يې په پوره غور په پام کې نيولي او تر سمون وروسته يې زما له نظره تېر کړي دي چې زه يې د لارښود استاد په توګه په دې لار او چار کې د زغم، حوصلې او زيار ګاللې مننه او ستاينه پر ځان لازمي بولم.

دلته د دې علمي ـ څېړنيزې پروژې د بڼې او محتوا ځينې ځانګړنې داسې په ګوته کوم:

- د موضوع مبرميت او څېړنيزه اړتيا يې څرګنده او محسوسه ده چې څېړونکي هغه په خپله سريزه کې ښودلې ده.
- د څېړنې د اکاډميکو اصولو له مخې يې دا پراخه موضوع پر لويو، منځنيو او ځنګزنو سرليکونو باندې په داسې مناسبه توګه وېشلې چې د هرې برخې اړوندې موضوع په پېژندنه کې يې د بېلګو په ترڅ کې په شننې او لازمو توضيحاتو سره د هغې څېړنيز حق پر ځای کړی دی.
- په موضوع پورې د اړوندو مسايلو د وړاندې کولو چار بريالی سرته رسېدلی دی. د څېړونکي استدلالونه او څرګندونې مدللې او علمي دي، منطقي تسلسل يې له پامه نه دی غورځولی.
- له معاصرو څېړنيزو اکاډميکو اصولو سره سم له نويو او باوري سرچينو (چاپي او قلمي آثارو) څخه په استفاده څېړنه په مناسب ډول ترسره شوې، اخځليکونه او معلوماتي سرچينې يې لومړی په لمنليکونو او بيا په ټوليز ډول د کتاب په پای کې د مأخذ ښودنې له اکاډميک اصل سره سم راوړل شوې دي.
- د موضوعاتو په څېړنه او سپړنه کې يې زيات تشريحي او توضيحي ميتود کارولی او کله کله يې د اړتيا پر مهال د موضوعاتو په تحليلي او پرتلنه کې انتقادي لاره

خپله کړې ده.

- د ليکنې سبک يې ساده، روان، له هر اړخه د پوهاوي وړ، لـه لفظـي او معنـوي تعقيد او پېچلتيا څخه ژغورلی دی.

دې پورته يادونو او ځينو نورو ځانگړنو ته د پاملرنې په پايله کې زه د لارښـود اسـتاد په توگه د ښاغلي احمدزي دغه څېړنيزه پروژه په علمي او مسـلکي لحـاظ پـوره او مثبتـه گڼم، له څېړنوال علمي پوړ څخه يې د څېړنپوه علمي رتبـې تـه د لوړېـدو وړ او مسـتحق گڼم. د لوی څښتن تعالی په دربار کې ورته د لا زياتو علمي- فرهنگي خـدمتونو او لـوړو علمي پړاوونو پـه بريـاليتوب تـرسره کولـو هيلـه او دعـا کـوم. د علومـو اکـاډمۍ د ژبـو او ادبياتو مرکز ته يې د امکاناتو د برابرېدو په صورت کې د چاپ او خپراوي سپارښـتنه هـم کوم.

اکاډميسين څېړنپوه دکتور سيد محی الدين هاشمي
د علومو اکاډمي- د پښتو څېړنو بين المللي مرکز
د ۱۴۰۱ لمريز کال د ليندۍ ۲۵مه

## تقریظ

د ژبو او ادبیاتو مرکز محترم ریاست ته!

ستاسې د ۱۴۰۱هـ. ش کال د عقرب میاشتې د ۲٦مې نېټې د ٦۷۸/ ۳۴۲ نومره لیک په ملتیا مو د څېړنوال محمد اصف احمدزي لیکلی تحقیقي اثر (په پښتو کې د مسجع نثر د پیدایښت او پایښت څېړنه) د تقریظ لپاره ماته استولی دی. ما دا کتاب ولوست او د ارزښت او اهمیت په باب یې خپل نظر په لاندې ډول تاسې ته وړاندې کوم:

په شرقي ژبو کې د مسجع نثر پیدایښت او ودې په ځانګړې توګه په عربي او پارسي ژبو کې خپل پړاوونه وهلي او ډېر مسجع آثار یې د دې ژبو پر فرهنګي ذخیره ور زیات کړي دي.

د دې دوو ژبو د مسجع آثارو تر اغېز لاندې د نورو شرقي ژبو فرهنګي آثارو ته هم مسجع نګارۍ لار موندلې ده.

مسجع لیکنې د شرقي فرهنګ د یوې ستنې په توګه ډېر دیداکتیک اثار په خپلې لمن کې رانغښتي دي او د شرقي ژبو د تعلیمي آثارو درنه ذخیره یې موجوده کړې ده.

ادبي پدیدې که هغه د نثر بېلا بېل انواع دي او یا هم د منظومو آثارو بېلابېل ژانرونه، په یوه خاصه زماني مقطع کې پیدا کېږي او له پیدا کېدو سره یې نورې پخوانۍ پدیدې یا له منځه ځي، نه ایجادېږي او یا یې د ایجاد پروسه سوکه کېږي، یوازې دغه نوې پدیده د ځینو خاصو عواملو او ضرورتونو پر بنیاد د ژبو پر فرهنګي حوزو حاوي کېږي او د ژبو پر فرهنګي چاپېر په هماغه خاصه زماني مقطع کې یې اغېز حاکم شي او د فرهنګي آثارو د پیدایښت لپاره عام قبول همدې نوې پدیدې ته حاصل وي او په همدې بنا هغه خاصه زماني مقطع د ژبو په ادبي او فرهنګي تاریخ کې د هماغې پدیدې په نامه خاصه شوې وي. په همدې بنا د شرقي ژبو په ادبي او فرهنګي تاریخونو کې ځیني خاص مقاطع د مسجع نثر د پیدایښت او عروج په نامه یادېږي او بیا نورې ادبي پدیدې پرې غالبې شوې دي، خو بیا هم مسجع لیکنه پای ته نه ده رسېدلې، بلکې په وروستیو پېړیو کې هم ځینو خپل تعلیمي آثار پر همدې لیکنۍ شبوه لیکلي دي.

که به مونږ د شرق د بېلابېلو ژبو مسجع آثار وګورو، ټول یې یو ډول جوړښت نه لري، بلکې ساختاري جوړښتونو کې یې تبدیلۍ منلې دي.

پښتو هم یو له هغو شرقي ژبو څخه ده چې د ادبي دورو په یوه پړاو کې مسجع نثر لیکنې ظهور کړی، وده یې موندلې او د نورو ادبي پدیدو ترڅنګ د دیارلسمې پېړۍ تر پایه زمونږ دیني علماوو پر دې سبک آثار کښلي دي. زمونږ د ژبې مسجعاتو هم په کمي هم په شکلي او جوړښتي لحاظ تغییرات او تحولات منلي دي.

په شرقي فرهنګ کې د مسجع نګارۍ دغو عامو اصولو ته په پاملرنه د څېړنوال محمد اصف احمدزي اثر ارزیابي داسې کوم.

۱- که څه هم په پښتو څېړنو کې د پښتو مسجع نثر د پیدا کېدو د موضوع څېړنه نسبي اوږده سابقه لري او د تېرې هجري شمسي پېړۍ په جریان کې هم چې پر پښتو نثر کومې څېړنې په بېلابېلو منابعو کې راغلې دي، د پښتو مسجعاتو بحث ورسره جوخت راغلی دی، خو دا بحثونه ځینې لنډ او ځینې نسبي اوږده دي، خو پر پښتو مسجعاتو د یو ځانګړي تحقیقي اثر د کښلو ضرورت نه شي رفع کولای، پر همدې بنا څېړنوال محمد اصف احمدزي د دغې مهمې موضوع د څېړنې خوا ته توجه کړې او دا موضوع یې د یو ځانګړي اثر په کالب کې څېړلې ده، نو په دې اساس د خپلو ځانګړتیاوو له مخې پر دې موضوع لومړنی ځانګړی کښل شوی اثر ګڼل کېږي.

۲- زمونږ د ادبپوهنې په څېړنو کې د مسجع نثر د اساسي معلوماتو په باب ځینې تیت و پرک مطالب لر و بر نشر شوي دي، خو دا یادښتونه د دې پدیدې په باب سیستماتیکه پوهه لوستونکي ته په لاس نه ورکوي، ښاغلی احمدزی دغې نیمګړتیا ته متوجه شوی او د مسجع نثر د شکلي او جوړښتي خصوصیاتو او د مسجع نثر د بېلابېلو تعریفونو او تعبیرونو په ارتباط یې له ډېرو مستندو آثارو په استفادې یو لړ بنسټیز تیوریک معلومات د دې اثر لوستونکیو ته وړاندې کړي دي.

۳- په پښتو ژبه کې یې د مسجع نثر د پیدایښت او پایښت جریان په اکاډمیک ډول څېړلی او د پښتو مسجع نګارانو له مشرانو، لکه بایزید روښان او آخوند درویزه ننګرهاري نیولې د یوولسمې، دولسمې او دیارلسمې پېړیو مسجع نګاران د هغو له آثارو او د مسجع نثرونو له شکلي او موضوعي خصوصیاتو سره منظم ښوولي دي.

۴- د تحقیقي اثر ښاغلي څېړونکي د معاصرې څېړنې له اکاډمیکو غوښتنو سره سم په پښتو څېړنو کې د دې موضوع د څېړنې د تاریخي پسمنظر جاج اخیستی دی، دا جاج لږ د نقد مالګه هم لري.

دا څېړنه د ډول له پلوه کتابخانه یي ده او د موضوع څېړنیزو خصوصیاتو ته په پاملرنه څېړونکي د خپلې څېړنې میتود توصیفي ـ تشریحي ښوولی دی او دا میتود یې زما په پوهه پر خپله ټوله څېړنه تطبیق کړی دی.

۵- مأخذ او له مأخذونو د استفادې موارد یې هم د یوې ښې څېړنې شرایط لري.

زه په خپل وار د پښتو مسجع نثر د پیدایښت او پایښت څېړنه نومی اثر له بېلابېلو اړخونو ښه څېړنه بولم چې د اینده فرهنګي څېړنو لپاره د یو مأخذ حیثیت لري او زموږ په اکاډمۍ کې چې د سرمحقق رتبې ته د لوړېدو لپاره کوم اثار لیکل شوي له هغو ښو سره یې اوږه وهي. زما په پوهه دا څېړنه په اطمیناني ډول د سرمحقق اکاډمیکې رتبې ته د څېړنوال محمد اصف احمدزي د لوړېدو وړتیا لري.

په پای کې دا یادونه کوم، کله چې ما دا څېړنه لوسته، په ځینو ځایونو کې ځینې اصلاح طلبه موارد هم وو، د دغو مواردو په باره کې مې ښاغلي لیکوال ته خپلې مشورې ولیکلې او دا مې هم ورته ولیکل که دې مناسبه ګڼله دا مشورې ولوله او د لزوم په صورت کې یې د اثر په وروستي وریانټ کې په نظر کې ولره، البته دا مشورې د اثر پر اکاډمیکې اډانې کوم منفي اغېز نه لري، بلکې د اثر اکاډمیک اړخ پرې درنېدای شي.

په درناوي

سرمحقق زلمی هېوادمل

# تقریظ

د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو د مرکز محترم ریاست ته!

ستاسو د ۱۴۰۱/۸/۲٦لمریز = ۱۴۴۴/۴/۲۲هـ. ق نېټې د ۳۴۲/ ٦۷۷ ګڼه لیک په ملتیا د ښاغلي څېړنوال محمد اصف احمدزي علمي- څېړنیز اثر «په پښتو کې د مسجع نثر د پیدایښت او پاینښت څېړنه» ماته د تقریظ لپاره را استول شوی چې په لاندې توګه یې په اړه خپل نظر څرګندوم:

دغه اثر پر سریزې سربېره شپږ څپرکي، پایله، وړاندیزونه او د مأخذونو فهرست لري. لیکوال په سریزه کې له معمول سره سم له یو څو مقدماتي خبرو وروسته په کلاسیکه دوره کې د پښتو نثر په ځانګړې توګه د مسجع نثر د پیاوړتیا او دوام مسألې ته لنډې لنډې نغوتې کړې، ورپسې یې د دې اثر د کښلو پر اړتیا او د موضوع پر مبرمیت بحث کړی او پر دې سربېره یې د خپل کار څېړندود او موخې هم څرګندې کړې دي.

لکه څنګه چې څېړونکي ورته نغوته کړې، د دې اثر په کښلو کې له تشریحي - تحلیلي میتود څخه کار اخیستل شوی، خو لیکوال کله کله د اړتیا پرمهال کره‌کتنیز یا انتقادي میتود ته هم لاس غځولی دی.

د دې څېړنیز اثر لومړی څپرکی د موضوع شالید ته ځانګړی شوی چې د موضوع تېر وخت او پسمنظر په کې په لنډو ټکو کې څېړل شوی او په ترڅ کې یې له هغو ۱٤۰ بېلابېلو مأخذونو څخه چې د دې اثر په بشپړونه کې ترې استفاده شوې؛ هغه ۱۳ اثره چې د رسالې لیکوال ته مهم ښکاره شوي، معرفي او د اړتیا پرمهال یې آثار د ارزونې ترڅنګ نقد کړي هم دي.

په دویم څپرکي کې د نثر د کلمې پر لغوي او اصطلاحي شننې سربېره د نثر په ډولونو، بهرني او دنننې جوړښت خبرې شوې او بالاخره په ټوله کې د پښتو نثر پرمختیایي بهیر ته ځغلنده کتنه شوې ده چې لیکوال له خپل توان سره سم موضوع له موجودو مأخذونو نه په استفادې ښه روښانه کړې ده.

د دې اثر په درېیم څپرکي کې د مسجع نثر پر پېژندنې سربېره د مسجع نثر د پیدایښت او رامنځته کېدو په څرنګوالي هم مفصل او هر اړخیز بحث شوی دی او دغه

موضوع د نړدې ۲۱ ځنګې یا بغلي سرلیکونو په ترځ کې څېړل شوې ده.

څلورم څپرکی، د پښتو نثر د تاریخي بهیر څېړنې ته ځانګړی شوی دی چې په ترځ کې یې په پښتو ادب کې د مسجع نثر بنسټګر هم پر موړ پېژندلي دي، په پای کې د عربي او دري له ځینو مسجع نثرونو سره د پښتو مسجع نثرونه پرتله شوي او غوره پایلې ورڅخه ترلاسه شوې دي.

د رسالې په پنځم څپرکي کې هغه آثار تحلیل او څېړل شوي چې په پښتو مسجع نثر لیکل او خپاره شوي دي. لیکوال د بېلابېلو آثارو د پېژندنې په ترځ کې هڅه کړې چې یواځې په تشه معرفي بسنه ونه کړي، نو ځکه یې خپل توضیحات هم ورسره ملګري کړي دي.

د دې اثر شپږم او وروستی څپرکی، په دوو وروستیو پېړیو، یعنې دولسمه او دیارلسمه پېړۍ او معاصره دوره کې د پښتو مسجع نثر لیکنې د بهیر څېړنې ته ځانګړی شوی دی چې د بېلګو په وړاندې کولو سره یې ځینې آثار په لنډیز سره معرفي کړي هم دي.

دغه اثر په یوې غوره پایلې، وړاندیزونو او د مأخذونو په فهرست سره پای ته رسېدلی دی.

د دې بحث په پای کې باید ووایم، هره څېړنه چې ترسره کېږي، خامخا به یوه موخه او هدف لري، دغه څېړنه چې ښاغلي احمدزي ترسره کړې، د یوې خاصې موخې په منظور یې کړې ده چې هغه په پښتو کې د مسجع نثر د پیدایښت او پایښت مسأله ده، زما په اند نوموړی په دې څېړنه کې بریالی ښکاري.

لیکوال د خپلې څېړنې په ترځ کې د موجودو مأخذونو په رڼا کې د دغه نثر د رامنځته کېدو او دوام د مسألې د څېړنې په ترځ کې د دې نثر مخکښان، پیاوړي لیکوالان او د دې مکتب لارویان او پیروان هم ښودلي دي.

تر کومه ځایه چې ماته معلومه ده، تر اوسه پورې د پښتو مسجع نثر په اړه داسې ځانګړی اثر چې دغه نثر دې په کې هر اړخیز څېړل شوی وي، نه دی لیکل شوی، نو له همدې امله د دغسې یوه ځانګړي اثر د لیکلو اړتیا محسوسه وه. همدې اړتیا ته په

کتـو د ژبـو او ادبيـاتو مرکـز د پښـتو ژبـې او ادبيـاتو انسـتيتوت دغـه موضـوع پـه خپلـو اوږدمهالو څېړنيزو پلانونو کې شامله او څېړنوال محمد اصف احمدزي تـه يـې د څېړنـې لپاره وسپارله، نوموړي هم د دې موضوع څېړنې ته ملا وتړله او پـه ډېـره ښـه وجـه يـې د څېړنې د مروجو ميتودونو په رڼا کې بشپړه او دغه تشه يې تر ډېره بريده ډکه کړه.

- ليکوال د دې اثر په بشپړولو کې د څېړنې منل شوي او اکاډميک معيارونـه پـه پام کې نيولي او په دې ترڅ کې يې هڅه کړې چې د سيمه‌ييزې لهجې پرځای معيـاري ژبې ته ترجيح ورکړي.

- له کومو آثارو څخه يې چې د څېړنې پرمهال اسـتفاده کـړې، هغـه يـې د مأخـذ ښودنې له منل شوو معيارونو سره سم ښودلي دي. د نقل قولونو (مستقيم او نامسـتقيم) په راوړلو کې يې امانتداري نه ده هېره کړې او له تصرف نه يې ځان ژغورلی دی.

- څېړونکي د هرې موضوع د څېړنـې پـه تـرڅ کـې د خپلـې ادعـا د ثبـوت لپـاره ځينې نظرونه را اخيستي، خو په پای کې يې خپل نظر هم څرگند کړی او يواځې پـه تـا ويلې ما ويلې يې بسنه نه ده کړې.

- د دې لپاره چې دغه اثر هسـې ببځايـه ونـه پړسـېږي، څېړونکـي لـه اضـافي او زايدو تبصـرو او تشـريحاتو څخه ډډه کړې او د خپلې څېړنې په بهير کـې يـې تـل معيـار غوره گڼلی دی.

- بل مهم ټکی چې موږ په څېړنه کې ورسره مخـامخ کېـږو، هغـه املايـي يـووالی دی، نوموړي په دې برخه کې هم خپله هڅه نه ده سپمولې.

د دې لنډو خبرو په پـای کـې بايـد ووايـم چـې څېړنـوال احمـدزی د افغانسـتان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبياتو مرکز يو له هڅاندو ليکوالـو څخـه دی چـې تـل پـه څېړنـو بوخت وي، نوموړي د دې اثر په بشپړولو کې هم ډېرې هلې ځلې کړي چې زما په انـد د ستاينې وړ دي.

مخکې له دې چې خپله وروستۍ رايه څرگنده کړم، له ښاغلي احمـدزي څخـه لـه دې امله مننه کوم، زما څو وړانديزونه چې د رسالې د لا ښه کېدو په اړه مې کـړي وو، پـه ورين تندي ومنل او عملي يې کړل.

په پای کې باید ووایم، که چېرې څېړنوال محمد اصف احمدزي له اړوندو لایحـو او مقرراتو سره سم د علمي ترفیع نور اړوند شرطونه بشپړ کـړي وي، زه دغـه اثـر تأییـدوم او اړوندو مقاماتو ته وړاندیز کوم چې له څېړنوالۍ څخه د څېړنپوه علمي رتبې ته يې ترفیع منظوره کړي.

نوموړي ته د څښتن تعالی له درباره د نورو علمـي څېړنـو پـه تـرسره کولـو کـې د لا نورو بریالیتوبونو هیله کوم. د دې لپـاره چـې دغـه اثـر د عـامې اسـتفادې وړ وګرځـي، د چاپ سپارښتنه یې هم کوم.

په درنښت

څېړنپوه نصرالله ناصر

# تقریظ

د ژبـو او ادبیـاتو مرکـز د ۱۸\۱۲۶ ۱۴۰۱= ۱۴\۱۲۲ ۱۴۴۴نېټـې د ۳۴۲\٦۷٦ ګڼـه لیک له مخې د څېړنوال محمد اصف احمدزي پر تحقیقي پروژه «په پښتو کې د مسجع نثرد پیدایښت او پایښت څېړنه» په اړه، خپل نظر په لاندې ډول وړاندې کوم:

د څېړنوال محمد اصف احمدزي علمي ـ څېړنیزه پروژه (په پښتو کې د مسجع نثر د پیدایښـت او پایښـت څېړنـه) تـر سرلیـک لانـدې د تـاریخي او تشرـیحي- تحلـیلي څېړندودونو په پیروۍ بشپړه شوې او د سرمحقق علمي رتبې تر لاسه کولو لپاره کاندیـده ده، شپږ څپرکي لري.

لومړی څپرکی یې د نوموړې موضوع مخینې ته ځـانګړی شـوی چـې معمـولاً دا وړ بحثونه، له دغې تحقیقي پروژې مخکې د شوي کار په ارزونې باندې را څرخـي. دا چـې دغه څېړونکي، په دې برخه کې د کوم محسوس ضرورت له مخـې دا پـروژه اخیسـتې او کوم نوی کار یې په دې اړه بشپړ کړی، د هغه اړتیا یې ښه تشـریح کـړې ده. د موضـوع اړوند پنځو آثارو تحلیلي کتنه په کې شوې ده او دا ډېره ښه روښانه شوې ده، چې د دې تحقیقي پروژې د لیکلو تر وخته پورې، په پښتو ادب کې نه د مسجع نـثر پـوره پېژندنـه شوې، نه یې بشپړ څرنګوالی ښودل شوی او نه هم د مسجع نـثر د پیدایښـت او پایښـت په اړه کوم ځانګړی اثر او څېړنه تر سره شوې ده. له دې امله دا په کـې څرګنـده شـوې ده چـې د دې علمي ـ څېړنیزې پروژې شوی کار، د پخوانیو کارونو په پرتله نوی او بشپړ دی.

د پښـتو ادبیـاتو د نـن ورځـې علمـي غوښـتنې دا دي چـې د دغـه شـان مهمـو موضوعاتو په اړه یـواځې یـادونې او سرسري کارونـه کفایـت نـه کـوي، بلکـې اکـاډمیکې مؤسسې د اوسني تحقیق د منل شوو اصـولو او ضـوابطو پـه رڼـا کـې د لوسـتونکو لپـاره داسې آثار برابر کړي، چې د معاصر علمي- اکاډمیک تحقیق هیله تـرې کېـږي. همـدې تمایل او محسوس ضرورت ته پـه پـاملرنې سره، د ژبـو او ادبیـاتو مرکـز (پـه پښـتو کـې د مسجع نـثر د پیدایښـت او پایښـت څېړنـه) پـه نامـه پـروژه طـرح کـړه او د دې علمـي ـ څېړنیزې پروژې د عملي کولو لپاره یې، د پښتو ژبې او ادبیاتو انسـتیتوت همدغـه غـړی وټاکه.

د دې پروژې لیکوال د ژبو او ادبیاتو مرکز دقیق، هڅاند او نوښتگر څېړونکی دی چې د تاندې ځوانۍ له لومړیو شېبو نه یې، د ادبپوهنې په یو شمېر برخو کې نوښتگرې څېړنې کړې دي او په ادبي او علمي تحقیقاتو کې د ښې څېړنیزې تجربې او مهارت خاوند دی. د پښتو، دري او اردو ژبو په څنگ کې، په عربي ژبه هم پوهېږي او علمي استفاده ترې کولای شي. یو شی یواځې تر سر نه تېروي، بلکې ریښه یې را سپړي، له دې امله یې د خپلو پرله پسې او دایمي هڅو په پایله کې یو ډېر گټور علمي اثر لیکلی دی.

په پښتو ادبیاتو کې بایزید روښان د مسجع نثر نوښت وکړ، په ادبیاتو کې د لیکنې دا په زړه پورې لاره، د هغه پلویانو هم وپالله او ان د هغې جذابیت، د دې سبک د نوښتگر مخالفین؛ اخوند درویزه او پلویان یې هم دې ته اړ کړل چې د لیکنې همدغه روش خپل کړي او تر نورو یې ښه وپالي. په حقیقت کې د پښتو ادبیاتو د کلاسیکې ماهۍ پیل، په مسجع نثر سره شوی دی او د لیکنې دا لاره، زیاتره په تصوفي او عرفاني لیکنو کې ډېره پالل شوې ده، نو ځکه مهمه ده او څېړنې یې پوره زیار او پاملرنه غوښته. دا تحقیقي پروژه، په پښتو کې د مسجع نثر د پیدایښت او پایښت په اړه، لوستونکو او بیا په ځانگړې توگه ځوانو څېړونکو ته مناسبې لارې ورښیي. دا چې د مسجع نثر ابتدا په پیل کې د عربي ادبیاتو په دیني متونو کې تر سترگو کېږي، په فارسي ادبیاتو کې هم همدغه موضوع را اخیستل شوې او بیا هغه توپیرونه چې د مسجع نثر په برخه کې په عربي، فارسي او پښتو ادبیاتو کې تر سترگو کېږي، لیکوال د هغو پرتلنه کړې او په دې ډول، په دغه علمي څېړنه کې د محقق د نظر څرگندولو لپاره ځای پیدا شوی او په دې توگه، دې تحقیقي مسألې گڼ شمېر علمي ابعاد خپل کړي دي. له دې امله دې علمي ـ څېړنیز اثر، د پښتو ادبیاتو په څېړنیز ډگر کې ډېر مهم، هر اړخیز، جامع او کلیدي ارزښت خپل کړی دی.

په ټاکلې زماني مقطع کې د څېړنوال محمد اصف احمدزي په ډېر زیار او تکلیف سره دغه بشپړ شوی اثر، د پښتو ادبیاتو لپاره په زړه پورې تحقیقي کتاب دی چې درانه لوستونکي به په ډېر ډاډ او اطمینان سره، په پښتو ادبیاتو کې د مسجع نثر د پیدایښت

او پایښت په برخه کې ګټه ترې واخلي. دا چې د دغې موضوع د څېړنې تحقیقي او علمي حق په بشپړه توګه ادا شوی او د دغې علمي پروژې تحقیقي چوکاټ، له تخنیکي او علمي پلوه ګام په ګام او پل په پله د څېړونکي له خوا تعقیب شوی، زه د نوموړي څېړونکي دغه زیار او هڅه د ډېر قدر وړ بولم او اړوندو مراجعو ته وړاندیز کوم چې د دغه اثر د بشپړولو له امله د سرمحقق علمي رتبې ته د ده ترفیع ومني. هیله ده چې د افغانستان د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو مرکز یې د چاپ او خپراوي په برخه کې خاصه پاملرنه وکړي.

د افغانستان د علومو اکاډمي علمي غړی

او

د کابل مجلې مسئول مدیر

څېړنپوه محمد نبي صلاحي

# تقريظ

د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو مرکز د ۱۴۰۱/۸/۲۶هـ. ش نېټې د ۳۴۲ پر ۶۷۵ ګڼه لیک په ځواب کې چې ما ته مو د ښاغلي څېړنوال محمد اصف احمدزي علمي – څېړنیزه پروژه (په پښتو کې د مسجع نثر د پیدایښت او پایښت څېړنه) تر سرلیک لاندې را استولې وه، ما په پوره غور او دقت سره ولوستله، چې په اړه یې خپل نظر په لاندې ټکو کې په ډېر لنډیز سره تاسو ته وړاندې کوم:

د دې علمي ـ څېړنیزې پروژې ارزښت او اهمیت په خپل ځای مسلم دی او پوره پوره علمي ـ څېړنیز ارزښت لري، ځکه د سجعې او مسجع متونو پر موضوع په ګاونډیو ژبو کې ډېرې پراخې څېړنې شوې دي او د نثر له نورو ډولونو سره په مقایسوي ډول پرې پوره پوره بحثونه شته، خو په پښتو ژبه کې دا برخه تر دې مهاله خواره وه او چا پرې په دې کچ ومېچ څېړنه او ګروېږنه نه وه کړې، نو لازمه وه چې د پښتو د مسجع نثر په فني، ادبي او تاریخي اړخ دې یوه جامع څېړنه وشي، چې دا څېړنه تر ډېره دا موخه تر سره کوي.

سجع د بدیعي صنایعو له ډلې څخه یو مهم صنعت دی چې په هر وخت کې یې خپل ارزښت او اهمیت ساتلی دی ، سجع د کلام داسې وسیله ده چې لیکوال، ادیب او شاعر یې په خپل کلام کې د خپلو عواطفو، احساساتو او فکري لیدلوریو د اظهار لپاره کاروي او د کلام د ښکلا او ځلا باعث کېږي، په کلام کې یو ځانګړی اغېز لري او پر مخاطب د تأثیر لپاره یوه مهمه حربه یې بللی شو. سجع په کلام کې هنري رنګ او اثر داخلوي، کلام ته ښکلا، ځلا او موسیقیت وربخښي، پر اورېدونکي او لوستونکي خپل ځانګړی اغېز ښندي. سجع له ډېر پخوا څخه په شرقي ژبو او ادب کې خپل ځانګړی ځای لرلی دی، د کیسو او اوږدو حکایتونو د اورېدلو او لوستلو پر مهال پر لوستونکي او اورېدونکي ځانګړی تأثیر لري او هم د کلام د ښکلا او جذابیت لپاره یوه کارنده وسیله ده، چې له ډېر پخوا څخه د کلام د دلنشین کېدو او حفظ کېدو لپاره کارېده او همدا وجه وه، چې اکثریت دیني او مذهبي متون دې په مسجع نثر ولیکل شي، ترڅو د خلکو په ذهنونو کې ښه حفظ او وساتل شي.

سجع په خپل ځای خپل مخالفین او موافقین لري چې هر یو د خپلې مدعا د اثبات لپاره پوره پوره دلایل راوړي دي چې ښاغلي احمدزي په دې اثر کې پرې پوره پوره بحث کړی او مطلوبه نتیجه یې ترې تر لاسه کړې ده. هغه لومړی د نثر پر پیدایښت، پېژندنه، ډولونو او د هغو پر بېلګو ښه په تفصیل سره خبرې کړې دي او په عربي او دري ژبو کې یې د سجعې پر تاریخي بهیر رڼا اچولې ده او اړوندې بېلګې یې راوړې دي. د دې تر څنګ یې دا هم روښانه کړې ده چې مسجع نثر او فني نثر چې ډېر لیکوال یې سره یو بولي او اکثره پښتنو لیکوالو مسجع نثر ته فني نثر ویلی دی، په دې اثر کې پرې په تفصیل سره خبرې شوې دي او هغه بېل ګڼل شوي دي.

همدارنګه په دې اثر کې په پښتو ژبه او ادب کې د مسجع نثر پر تاریخي پسمنظر ښې اوږدې خبرې شوې دي، د مسج نثر پر پیلېدو، خپرېدو او پرمختیایي بهیر ګټور بحثونه لري او د پښتو ادب په ټولو دورو کې یې د مسجع نثر په اړه یوه هر اړخیزه څېړنه کړې ده، په پښتو ژبه او ادب کې یې د مسجع نثر بنسټګر او پالونکي موږ ته راپېژندلي دي، د بایزید روښان او اخوند درویزه پر ادبي مکتبونو او د دوی د پیروانو په اړه یې د مسجع نثر په بهیر کې ښه په زړه‌پورې څېړنه کړې ده او د مسجع نثر پر بېلابېلو آثارو او د هغوی پر لیکوالو یې هر اړخیزې خبرې کړې دي. د دې تر څنګ یې په عربي، دري او پښتو کې د سجعې پر مقایسوي او پرتلیزه برخې هم پوره پوره څېړنه کړې ده او د هرې ژبې د سجعې خصوصیات یې روښانه کړي دي او د دې درې واړو ژبو مثالونه یې هم راوړي دي.

په دې اثر کې په پښتو ژبه کې ټول هغه لیکل شوي آثار چې د سجعې څرک په کې لګېدلی دی، ښاغلي څېړنوال محمد اصف احمدزي په پوره ځیرتیا څېړلي او معرفي کړي دي او که په لنډ ډول ووایو، نو دا په پښتو ژبه کې د مسجع نثر په اړه یو بشپړ او هر اړخیز اثر دی چې د مسجع نثر پر پېژندنه، تاریخي سوابقو، په پښتو ژبه کې د مسجع نثر پر سوابقو او د مسجع نثر د آثارو او مدارکو په پېژندنه کې یو جامع اثر دی.

باید یادونه وکړو چې په پښتو ادب کې د روښانیانو ادبي او سیاسي نهضت چې

ديني صبغه يې درلوده د پښتون افغان وطن په فرهنګي، سياسي او ادبي تاريخ کې ځانګړی ځای لري، چې نه يواځې د پښتون قوم په ټولنيز او ادبي تاريخ کې بې مثاله دی، بلکې د سيمې او په ځانګړي ډول د هند د نيمې وچې، منځنۍ ختيځ او منځنۍ اسيا په تاريخ کې په فکري او سياسي لحاظ يو بې‌ساری تحريک و، چې شاوخوا اويا کاله يې دوام وکړ او پر راتلونکو ادبي تحريکونو په ځانګړي ډول د خوشحال بابا پر ادبي تحريک او همدارنګه د ملي مشر ميرويس نيکه سياسي تحريک او نورو تحريکونو له دغه تحريک خپل الهام اخيستی دی او حتی تر نن ورځې پورې دغه تحريک په يو نه يو شکل خپل اغېز ساتلی دی.

تر کومه چې خبره د څېړنوال محمد اصف احمدزي د حاضر اثر ده، دغه اثر چې ما په بشپړ ډول وکاته، د څېړنې د اصولو، معيارونو او ميتودونو پر اساس سم ليکل شوی دی، ژبه يې ساده، روانه او اسانه ده، ادبي خوږلني لري او لوستونکي ترې په ډېره اسانۍ ګټه اخيستلی شي، په دې څېړنه کې له لومړي لاس سرچينو او مأخذونو څخه ګټه اخيستل شوې ده او د مأخذليکنې اصول يې له علمي معيارونو سره سم دي. نو زه دغه علمي- څېړنيز اثر په تمامه معنا مثبت ارزوم او د څېړنوال له علمي رتبې څخه يې د څېړنپوه علمي رتبې ته د لوړېدو لپاره کافي بولم او اړوندو برخو ته وړانديز کوم، که د علمي ترفېع نور شرايط يې پوره کړي وي، نو ښاغلی محمد اصف احمدزی د دې وړ بولم چې پر دې اثر د څېړنپوه علمي رتبې ته ترفېع وکړي، همدارنګه له علومو اکاډمي څخه غوښتنه کوم چې د دې اثر د چاپ لپاره هم امکانات برابر کړي، ترڅو د دې اثر ګټه عامه شي. په پای کې د اثر ليکوال ته د لوی خدای(ج) له درباره د داسې نورو علمي څېړنو لپاره د ښه صحت غوښتونکی يم، پر متېو او قلم يې برکت شه.

په درناوي

څېړنپوه دکتور عبدالظاهر شکيب

د سيمه ييزو مطالعاتو د مرکز رئيس

# سریزه

د وینا او کلام په وړاندې کولو او لیکلو کې د ژبې طبیعي جوړښت په پام کې نیول په کار دي، الفاظ باید صریح او جملې رواني او ساده وي؛ خو کله داسې پېښېږي چې مطلب د متنوعو او رنګارنګو کلمو او الفاظو په واسطه اوړد او مطنب شي، خو کله داسې هم احساسیږي چې په جملو کې ځینې کلمې سره یو ډول همغږي او هم وزن‌والی ولري، د جملو یوه یا څو کلمې سره داسې هماهنګي ولري چې یو ډول موسیقیت او ترنم پیدا کړي چې په وینا او کلام کې همدغه کیفیت ته سجع ویل کېږي. سجع یو غږیز یا صوتي جوړښت دی چې په ادبي وینا کې د اوازونو د تکرار لامل کېږي چې په همدې سره یې په مختلفو زمانو کې په نثر کې د پام وړ مقام موندلی دی. الفاظ خپل ښایست، پیکه والی او بدرنګوالی لري، چې دا حکم یواځې د اورېدو حاسه یا غوږ کولی شي.

په هره ژبه کې نثر په مختلفو زمانو کې بېلابېل حالتونه، کیفیتونه او شکلونه لرلي دي، کله یې روانه او طبیعي بڼه لرلې، کله مسجع شوی او کله یې هنري خوا غښتلې شوې ده. دا چې ولې په یوه ژبه کې نثر دغه ډول لوړو ژورو ته مخه کړې ده خپل خپل عوامل او اسباب لري.

پښتو ژبې هم همدغسې یو سیر او تګ لرلی دی؛ په لومړیو کې یا تر لسمې هجري پېړۍ پورې یې نثر طبیعي جوړښت درلود او خپل روانوالی یې ساتلی دی، خو کله کله مسجعات هم په کې لیدل کېږي، اما تر دې وروسته په لسمه هجري پېړۍ کې پښتو نثر د سجعې خواته مخه کړې ده. د هغه وخت د ژبې او ادب مخکښانو او پلیونو یې خپلو دیني او تصوفي افکارو ته د تبلیغ لپاره په خپلو ویناوو او لیکنو کې همدا نثري ډول پاللی دی، دا هغه وخت و چې د پښتو ادبیاتو بڼ له روحانیت او تصوف څخه خړوبېده. په لسمه هجري پېړۍ یا د پښتو ادب په دویمه دوره کې نامتو شخصیت بایزید روښان او بیا د هغه په تقلید د ده سرسخت مخالف اخوند درویزه نثر لیکنو او خاصتاً مسجع کښنې ته ځانګړنې پاملرنه کړې ده. تر دې وروسته په یوولسمه او دولسمه هجري پېړیو کې د درویزه پیروانو په مسجع نګارۍ د خپلو آثارو لیکلو ته زور

ورکړې دی، خو په پښتو ادب کې د ترلاسه شویو معلوماتو په اساس د مسجع نثر لومړی دستار پیر روښان په سر تړلی او د خپل لومړني اثر په کښلو سره یې په پښتو کې بشپړ مسجع نثر دود کړی دی.

د بایزید روښان تحریک او د اخوند درویزه پیروانو فکري او قلمي کشمکش سره له دې چې په عامه توګه یا مشخصاً له سیاسي او اجتماعي پلوه د پښتنو په زیان تمام شوی، خو د دوی د قلمي مبارزې په نتیجه کې ګڼ شمېر آثار ایجاد شول. که یوې ډلې خیر البیان لیکلی، نو بلې په مقابل کې مخزن الاسلام کښلی چې له برکته یې پښتو ژبې وده او انکشاف وکړ. دوی په خپلو آثارو کې د دې لپاره چې دیني رنګ ورکړي او بیا یې د خپلو پیروانو له خوا په اسانه زده او حفظ شي، نو په خپلو جملو، کلام او وینااوو کې یې له داسې کلمو او الفاظو څخه کار اخیستی چې ورسره یې جملې اهنګینې او مسجع شوې دي. دغې لړۍ تر دوو- درېیو پېړیو پورې دوام وموند چې ورسره مسجع لیکنې د پښتو نثر یوه مهمه ځانګړنه او برخه وبلل شوه.

سجع عبارتونو ته ظرافت ور بخښي او چې کله لوستل کېږي، اهنګ او موسیقیت ورکوي، معنا ته لطیف فهم او خوږوالی ورکوي.

کله کله پوښتنه پیدا کېږي چې د سجعې ګټه څه ده یا دا چې په وینا یا کلام کې څه زیاتوالی راولي؟

ځواب یې دا دی چې سجع وینا او کلام خوږوي چې اورېدونکی ترې خوند اخلي او په اسانۍ یې حفظ کولی هم شي. دا هغه وخت لا ډېره ښایسته او په زړه پورې کېږي چې په کلام کې د هغه خپلې ځانګړنې مراعات شي. په دې معنا چې فقرې یې د اوږدوالي له پلوه مساوي وي، ترکیبونه یې قوي وي، له تکلُف او تصنُع څخه لرې او طبیعي وي، تکرار په کې نه وي، الفاظ د معنا تابع وي، نه دا چې معنا د الفاظو قرباني شي. د سجعې له برکته په وینا او متن کې یو اهنګ او موسیقي پیدا کیږي، تعبیر ته قوت، تأثیر او روښنایي ور بخښي چې له امله یې په ذهن کې ښه او ژر کښېني.

دا چې مسجع لیکنه په پښتو ژبه کې دومره ډېره سابقه او قدامت لري او د پښتو ادب د میدان یوه پراخه ساحه یې نیولې ده، خو په همدې ژبه کې د مسجع نثر په باره

کې پراخه او هر اړخیزه څېړنه نه وه ترسره شوې، نـه هـم د دې نـثري ډول د ځانګړتیـاوو پوره جاج اخیستل شـوی و او نـه د مسـجع نـثر د بڼـکلاوو تحلـیلي څېړنـه شـوې وه، پـه داسې حال کې چې له مسجع نثر څخه موخـه د ښـکلا پنځـول او د تـرنم ایجـادول دي چې دا دواړه په زړونو او ذهنونو ښه اثر لري او په ټوله کې بیا همدا د ادبیاتو موخه ده.

په پښتو ادب کې سره له دې چې مسجع نثر یو څه څېړل شـوی دی، خـو هغسـې چې لازمه وه او ده او د دې مهمې موضوع حق ادا شوی وای، تر اوسه پورې وربانديې هر اړخیز علمي- اکاډمیک کار نه و شوی، همدغـه هغـه اړتیـا وه چـې د علومـو اکـاډمي پـه ستراتیژیک پلان کې دغه موضوع ځای شـوې وه او لـه نېکـه مرغـه د تحقیـق او تحلیـل لپاره ما غوره او انتخاب کـړه. د دې علمـي- څېړنیـزې پـروژې سرلیـک «پـه پښـتو کـې د مسجع نثر د پیدایښت او پایښت څېړنه» وټاکل شو چې له خپل پلان او وخـت سره سـم په شپږو څپرکو کې بشپړه او ولیکل شوه.

په لومړي څپرکي کې پر هغو آثارو خبرې شـوي چـې پـه همـدې موضـوع یـې څـه ناڅه رڼا اچولې ده او په کې جوته شوې چې دغه موضوع لا ډېرې هر اړخیزې علمـي او اکاډمیکې څېړنې ته اړتیا لري. په دویم څپرکي کې د نثر پر پېژندنې سربېره د پښتو نثر پرمختیایي بهیر څېړل شوی دی؛ د نثر لغوي او اصطلاحي پېژندنه شـوې، د نـثر ډولونـه ښودل شوي او د پښتو نثر پرمختیایي بهیر ته ځغلنده کتنه شـوې ده. درېـیم څپرکـی د مسجع نثر پېژندنې او د هغـه د پیدایښـت څرنګـوالي تـه ځـانګړی شـوی دی؛ لـومړی د مسجع نثر پېژندنه شوې، ډولونه یې ښودل شوي، د مسجع نثر ځانګړتیـاوې او د نـثر لـه نورو ډولونـو سره یـې توپیرونـه جـوت شـوي، پـه عـربي او دري ژبـو کـې د مسجع نـثر د پیدایښت او پایښت څرنګوالي ته لنډه کتنه شوې ده. پـه څلـورم څپرکـي کـې پـه پښـتو ادب کې د مسجع نثر تاریخي بهیر څېړل شـوی دی؛ پـه پښـتو ادب کـې د مسـجع نـثر پیل، خپرېدنه او پرمختیا بیان شوې، په پښتو ادب کـې د مسـجع نـثر د بنسـټګرو لنـډه پېژندنه شوې، د عربي او دري ژبـو لـه ځینـو مسـجع نثرونـو سره د پښـتو مسـجع نثرونـو پرتلنه شوې ده. پنځم څپرکی بیا په پښتو ادب کـې پـه مسـجع نـثر د لیکـل شـوو آثـارو تحلیلي څېړنې او ارزونې ته مختص شوی دی؛ په روښاني غورځنـګ کـې د مسـجع نـثر

لیکنـې د بهـیر څرنګـوالی او د آثـارو تحلـیلي کتنـه شـوې، د اخونـد درويـزه او د هغـه د پیروانو د مسجع نثر لیکنې د بهیر څرنګوالی ښودل شـوی، د اخونـد درويـزه او د هغـه د پیروانو پر مسجع نثر د ځینـو لیکـل شـوو آثـارو پېژندنـه او تحلـیلي کتنـه شـوې، د خـیر البیان او مخزن الاسلام د مسجع نثرونـو د پرتلنـې جـاج اخیسـتل شـوی، د روښـان او د درويزه د پیروانو او ځینو نورو مسجع نثر لیکونکو د آثارو د ژبني اړخ مقایسه شوې ده. په شـپږم څپرکـي کـې پـه وروسـتیو دوو پېړيـو او معـاصره ادبي دوره کـې د پښـتو مسـجع نثرلیکنې بهیر څېړل شوی دی؛ په دولسمه او دیارلسمه هجري پېړۍ کې د مسجع نـثر لیکنې پر پرمختیایي بهیر رڼا اچول شوې ده، بیا د دیارلسمې هجري پېړۍ په وروسـتیو کې د مسجع نثر لیکنې د بهیر د رکود عوامل بیان شوي او په پای کې په پښـتو معـاصر ادب کې د مسجع نثر څرنګوالی روښانه شوی او نیمګړتیـاوې یـې ښـودل شـوې دي. دا علمي- تحقیقي پروژه په پایلې، مشخصـو وړانـدیزونو او د مأخـذونو پـه فهرسـت پـای تـه رسېدلې ده.

### د څېړنې مېتود او هدف

په دې څېړنه کې له تشرېحي- تحلـیلي او تـاریخي مېتودونـو څخـه کـار اخیسـتل شوی دی.

ویلی شو چې په دې علمي څېړنه کې په عام ډول د مسجع نثر او په ځانګړي ډول د پښتو مسجع نثر پوره جاج اخیسـتل شـوی او تحلیـل شـوی دی. د دې اثـر محسوسـه ګټه دا ده چې د پښتو منثور ادب تیاره اړخونه روښانه شوي، ورسره دا برخـه غنـي شـوې او هم هغه عمومي شکایت چې زموږ نثري ځولۍ له پخوا څخه ډېره ډکه نه ده، ورسره تر ډېره بریده را ډکه شـوې ده. د پښـتو ادب پـه ګلـبڼ کـې داسـې ډېـر کسـان شـته چـې یواځې د شاعرۍ اړخ یې ډېر روښانه دی، خو دی نثـار هـم دی چـې پـه دې پـروژه کـې همدغسې ډېر کسان معرفي شوي دي. په دې څېړنې سره د پښتو د مسجع لیکنې ډېـر تیاره اړخونه روښانه شوي او نوې زاویې یې را پلټل شوې دي، له یوې خوا په کې د یـوې مهمې موضوع ډېر اړخونه روښانه شول او له بلې خوا د دې اثر د کښلو په برکت د خپلـو پخوانیـو او سـلفو پښـتنو لـه ډېـرو لیکوالـو او آثـارو سره یـې اشـنا شـوم او د دې رسـالې

لوستونکي به هم ورسره بلد شي.

دا یادونه اړینه بولم په دې څېړنه کې چې په کوم ځای کې د مسجع نثر یو پخوانی متن رانقل شوی، هغه هماغسې کټ مټ را اخیستل شوی او لیکدود یې په خپل حال پاتې دی، ما په کې ځینو ځایونو کې د یاګانو له سمون پرته ګوتې نه دي وهلي. دغه راز ځینې مسجع ټوټې، ابهامات یا ګرامري نیمګړتیا لري چې په اصلي متن کې همداسې راغلي، نو که لوستونکو ته څه ذهني کړاو پېښېږي، هغه به زما قصور نه، بلکې د هماغه وخت لیکدود او لیکل به وي. دغه راز په دې رساله کې چې کوم ځای مسجع کلمه یا جمله راغلې، هلته ترې لاندې یوه کرښه ایستل شوې ده چې لوستونکی یې په اسانۍ سره درک کړي.

لازمه بولم چې د خپل لارښود استاد څېړنپوه دکتور سید محی الدین هاشمي یادونه وکړم چې د دې څېړنې پر مهال یې له لازمو علمي او څېړنیزو لارښوونو او لوریېنو څخه برخمن کړی یم. الله ﷻ دې په عمر او علم کې لا ډېر برکت واچوي. له استاد حبیب الله رفیع څخه هم نړۍ مننه کوم چې د پښتو یو ډېر پخوانی قلمي اثر «بیان های افغاني» یې زما په واک کې راکړ، په دې اثر کې ډېر ارزښتمن پښتو مسجع نثرونه خوندي دي چې د دې پروژې په بشپړولو کې یې له ما سره ډېره مرسته وکړه. که د استاد دغه لوریېنه نه وای، دغه څېړنه به له ډېرو مسجعو نثرونو بې برخې وای. پر دې علمي- تحقیقي پروژې د تقریظ لیکونکو هر یوه استاد څېړنپوه زلمي هېوادمل، څېړنپوه نصرالله ناصر، څېړنپوه محمد نبي صلاحي او څېړنپوه دکتور عبدالظاهر شکیب کور دې ودان وي چې هر یوه دغه اثر په دقت سره وکوت او د اثر د غنامندۍ لپاره یې خپل نظریات راسره شریک کړل.

د ویلو ده چې د دغې علمي رسالې نوم په رسمیاتو کې «په پښتو کې د مسجع نثر د پیدایښت او پایښت څېړنه» و چې وروسته د چاپ پر مهال د دغه کتاب د ایډېټور ښاغلي څېړنپوه سید نظیم سیدي په مشورې سره یې نوم «د مسجع نثر څېړنه» غوره شو چې هم لنډ دی او هم پورتنی مفهوم لري.

په پای کې یادونه کوم، موږ بشر په خپلو کړنو او خبرو کې له تېروتنو او ښویېدنې

سره مخامخ کېږو، که په دې بحث کې زه بریالی او موفق شوی یم، نو د الله تعالی فضل او مهرباني به وي او که ستونزه او نیمګړتیا په کې پاتې وي، نو هغه به زما له خوا وي، هیله ده چې لوستونکي یې را سره شریکه کړي. نور ستاسو او د دې اثر ترمنځ پوله کېدل نه غواړم. دا تاسو او دا هم مسجع نګاري.